د پوهنې وزارت

پښتو

لومړی ټولګی

پښتو - لومړی ټولګی

Ketabton.com

د چاپ کال: ۱۳۹۸ هـ.ش.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ملي سرود

دا وطن افغانستان دی
دا عزت د هر افغان دی
کور د سولې کور د تورې
هر بچی یې قهرمان دی
دا وطن د ټولو کور دی
د بلوڅو د ازبکو
د پښتون او هزاره وو
د ترکمنو د تاجکو
ورسره عرب، گوجر دي
پامیریان، نورستانیان
براهوي دي، قزلباش دي
هم ایماق، هم پشه یان
دا هیواد به تل ځلیږي
لکه لمر پر شنه آسمان
په سینه کې د آسیا به
لکه زړه وي جاویدان
نوم د حق مو دی رهبر
وایو الله اکبر وایو الله اکبر

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحيم

د پوهنې وزارت

پښتو

لومړی ټولګی

د چاپ کال: ۱۳۹۸ هـ.ش.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د کتاب ځانګړتیاوې

مضمون: پښتو

مؤلفین: د تعلیمي نصاب د پښتو برخې د درسي کتابونو مؤلفین

اډیټ کوونکي: د پښتو ژبې د اډیټ دیپارتمنت غړي

ټولګی: لومړی

د متن ژبه: پښتو

انکشاف ورکوونکی: د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي کتابونو د تألیف لوی ریاست

خپروونکی: د پوهنې وزارت د اړیکو او عامه پوهاوي ریاست

د چاپ کال: ۱۳۹۸ هجري شمسي

د چاپ ځای: کابل

چاپخونه: بهیر مطبعه

برېښنالیک پته: curriculum@moe.gov.af

د درسي کتابونو د چاپ، وېش او پلورلو حق د افغانستان اسلامي جمهوریت د پوهنې وزارت سره محفوظ دی. په بازار کې یې پلورل او پېرودل منع دي. له سرغړوونکو سره قانوني چلندکیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د پوهنې د وزیر پیغام

اقرأ باسم ربک

د لوی او ښښونکي خدای ﷻ شکر په ځای کوو، چې موږ ته یې ژوند رابښلی، او د لوست او لیک له نعمت څخه یې برخمن کړي یو، او د الله تعالی پر وروستي پیغمبر محمد مصطفی ﷺ چې الهي لومړنی پیغام ورته (لوستل) و، درود وایو.

څرنګه چې ټولو ته ښکاره ده ۱۳۹۷ هجري لمریز کال د پوهنې د کال په نامه ونومول شو، له دې امله به د ګران هېواد ښوونیز نظام، د ژورو بدلونونو شاهد وي. ښوونکی، زده‌کوونکی، کتاب، ښوونځی، اداره او د والدینو شوراګانې د هېواد د پوهنیز نظام شپږګوني بنسټیز عناصر بلل کیږي، چې د هېواد د ښوونې او روزنې په پراختیا او پرمختیا کې مهم رول لري. په داسې مهم وخت کې د افغانستان د پوهنې وزارت د مشرتابه مقام، د هېواد په ښوونیز نظام کې د ودې او پراختیا په لور بنسټیزو بدلونونو ته ژمن دی.

له همدې امله د ښوونیز نصاب اصلاح او پراختیا، د پوهنې وزارت له مهمو لومړیتوبونو څخه دي. همدارنګه په ښوونځیو، مدرسو او ټولو دولتي او خصوصي ښوونیزو تأسیساتو کې، د درسي کتابونو محتوا، کیفیت او توزیع ته پاملرنه د پوهنې وزارت د چارو په سر کې ځای لري. موږ په دې باور یو، چې د باکیفیته درسي کتابونو له شتون پرته، د ښوونې او روزنې اساسي اهدافو ته رسېدلی نشو.

پورتنیو موخو ته د رسېدو او د اغېزناک ښوونیز نظام د رامنځته کولو لپاره، د راتلونکي نسل د روزونکو په توګه، د هېواد له ټولو زړه سواندو ښوونکو، استادانو او مسلکي مدیرانو څخه په درناوي هیله کوم، چې د هېواد بچیانو ته دې د درسي کتابونو په تدریس، او د محتوا په لېږدولو کې، هیڅ ډول هڅه او هاند ونه سپموي، او د یوه فعال او په دیني، ملي او انتقادي تفکر سمبال نسل په روزنه کې، زیار او کوښښ وکړي. هره ورځ د ژمنې په نوي کولو او د مسؤولیت په درک سره، په دې نیت لوست پیل کړي، چې د نن ورځې ګران زده‌کوونکي به سبا د یوه پرمختللي افغانستان معماران، او د ټولنې متمدن او ګټور اوسېدونکي وي.

همدا راز له خوږو زده کوونکو څخه، چې د هېواد ارزښتناکه پانګه ده، غوښتنه لرم، څو له هر فرصت څخه ګټه پورته کړي، او د زده کړې په پروسه کې د ځیرکو او فعالو ګډونوالو په توګه، او ښوونکو ته په درناوي سره، له تدریس څخه ښه او اغېزناکه استفاده وکړي.

په پای کې د ښوونې او روزنې له ټولو پوهانو او د ښوونیز نصاب له مسلکي همکارانو څخه، چې د دې کتاب په لیکلو او چمتو کولو کې یې نه ستړې کېدونکې هلې ځلې کړې دي، مننه کوم، او د لوی خدای ﷻ له دربار څخه دوی ته په دې سپیڅلې او انسان جوړوونکې هڅې کې بریا غواړم.

د معیاري او پرمختللي ښوونیز نظام او د داسې ودان افغانستان په هیله چې وګړي یې خپلواک، پوه او سوکاله وي.

د پوهنې وزیر

دکتور محمد میرویس بلخي

(c) ketabton.com: The Digital Library

فهرست

شمیره	سرلیکونه	مخونه
۱	د چمتووالي دوره	و
۲	الفبا او انځورونه	ی
۳	ا ـ ث	۱
٤	ج ـ ځ	۳
٥	د ـ ږ	٥
٦	س ـ غ	۷
۷	ف ـ و	۹
۸	هـ ـ ئ	۱۱
۹	ا، الله ﷻ	۱۳
۱۰	آ، آس	۱٥
۱۱	ب، بابا	۱۷
۱۲	پ، پل	۱۹
۱۳	ت، توت	۲۱
۱٤	ټ، ټال	۲۳
۱٥	ث، ثریا	۲٥
۱٦	ج، جوار	۲۷
۱۷	چ، چمن	۲۹
۱۸	څ، څاه	۳۱
۱۹	ځ، ځاله	۳۳
۲۰	ح، حج	۳٥
۲۱	خ، خرما	۳۷
۲۲	د، درمل	۳۹
۲۳	ډ، ډاکټره	٤۱
۲٤	ذ، ذاکر	٤۳
۲٥	ر، روژه	٤٥
۲٦	ړ، ړوند	٤۷
۲۷	ز، زده کوونکي	٤۹
۲۸	ژ، ژمی	٥۱
۲۹	ږ، ږمنځ	٥۳
۳۰	س، سابه	٥٥
۳۱	ش، شپون	٥۷
۳۲	ښ، ښنار	٥۹

(c) ketabton.com: The Digital Library

فهرست

شمیره	سرلیکونه	مخونه
٣٣	ص، صابون	٦١
٣٤	ض، ضعیف	٦٣
٣٥	ط، طوطي	٦٥
٣٦	ظ، ظاهره	٦٧
٣٧	ع، علم	٦٩
٣٨	غ، غاښ	٧١
٣٩	ف، فوټبال	٧٣
٤٠	ق، قلم	٧٥
٤١	ک، کور	٧٧
٤٢	ګ، ګل	٧٩
٤٣	ل، لمر	٨١
٤٤	م، مور	٨٣

شمیره	سرلیکونه	مخونه
٤٥	ن، نارنج	٨٥
٤٦	ڼ، بڼ	٨٧
٤٧	و، واوره	٨٩
٤٨	هـ، هوا	٩١
٤٩	ی، منی	٩٣
٥٠	ې، مېوې	٩٥
٥١	ي، منګي	٩٧
٥٢	ۍ، هګۍ	٩٩
٥٣	ئ، ولولئ	١٠١
٥٤	زموږ هېواد	١٠٣
٥٥	بیرغ	١٠٥
٥٦	د انسان درناوی	١٠٧

(c) ketabton.com: The Digital Library

د چمتووالي دوره

موخه: زده کوونکي به د دغو انځورونو په لیدلو سره خپل مسؤولیتونه وپېژني.

پوښتنه

ـ تاسو په پورتنيو انځورونو کې څه وينئ؟

ـ ځوک به ووایي چې هر سهار خپله د خوب بستره په خپله ټولوي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

پوښتنې

ـ څوك به ووايي چې په پورتنيو انځورونو كې څه ويني؟

ـ څوك به ووايي چې له تاسو سره ښوونځي ته د تللو په وخت كې د تيارى لپاره څوك مرسته كوي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



پوښتنې

ـ څوک به ووايي چې په پورتنیو انځورونو کې څه وینې؟

ـ تاسو له سړک څخه په څه ډول تېرېږئ؟

ـ څوک به ووايي چې د پولو په سر تېرېدل څه ګټه لري؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

پوښتني

ـ څوک به ووايي چې په پورتنيو انځورونو کې يې کوم يو خوښېږي؟

ـ که وغواړئ ښوونکي ته ځواب ورکړئ، کوم آداب بايد په پام کې ونيسئ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

الفبا او انځورونه

موخه: د انځوريزې الفبا تکرار.

ا (انار)

آ (آس)

ب (بیل)

پ (پل)

ت (توت)

ټ (ټال)

ث (ثور)

ج (جوار)

چ (چمن)

پوښتنې

ـ څوک به ووايي چې په پورته عکسونو او انځورونو کې څه شی وينئ؟
ـ څوک به ووايي چې په خپل کلي کې يې له پورته عکسونو او انځورونو څخه کوم شيان ليدلي دي؟

مشق او تمرين:

ا ا ا ا

(c) ketabton.com: The Digital Library

ح (حج)

خ (خرما)



څ (څاه)

ځ (ځاله)

د (درمل)

ډ (ډاکټر)

ذ (ذاکر)

ر (رمه)

ړ (ړوند)

پوښتني

ـ ځوک به ووايي چې په پورته عکسونو او انځورونو کې څه وينئ؟

ـ ځوک به ووايي چې په خپل کلي کې يې له پورته عکسونو او انځورونو څخه کوم شيان ليدلي دي؟

مشق او تمرين:

آ   آ   آ   آ

(c) ketabton.com: The Digital Library

ز (زمری)

ژ (ژمی)

ږ (ږلی)

س (سابه)



ش (شال)

ښ (ښارو)

ص (صابون)

ض (ضعیف)

ط (طوطي)

پوښتنې

ـ تاسو په پورتنیو انځورونو او عکسونو کې څه وینئ؟

ـ په پورته انځورونو کې موکوم یو خوښېږي؟

مشق او تمرین:

ب ب ب ب

(c) ketabton.com: The Digital Library

ظ (ظاهره)

ع (عینکي)

غ (غاښونه)

ف (فیل)

ق (قلم)

ک (کتاب)

ګ (ګل)

ل (لړم)

م (مور)

پوښتنې

ـ ځوک به ووایي چې په پورتنیو عکسونو او انځورونو کې یې کوم یو لیدلی دی؟

ـ ځوک به ووایي چې د خپلو لاسونو د پرې مینځلو لپاره له څه شي څخه کار اخلي؟

مشق او تمرین:

(c) ketabton.com: The Digital Library

ن (ناک)

ڼ (منه)

و (ونه)

ه (اره)



هـ (هګۍ)

ی (منګی)

ي (مڼې)

ي (موچي)

ۍ (سپوږمۍ)

ئ (ولولئ)

پوښتنې

ـ تاسو کله منه یا ناک خوړلی دی؟

ـ تاسو کله په جوماتکې له چا سره په ګډه قرآن کریم لوستلی دی؟

مشق او تمرین:

> > > >

(c) ketabton.com: The Digital Library

الفبې

ا	آ	ب	پ	ت	ټ
ث	ج	چ	ح	خ	څ
ځ	د	ډ	ذ	ر	ړ
ز	ژ	ږ	س	ش	ښ
ص	ض	ط	ظ	ع	غ
ف	ق	ک	گ	ل	م
ن	ڼ	و	ه	هـ	ی
ې	ي	ۍ	ئ		

(c) ketabton.com: The Digital Library

لومړی لوست:

موخه: زده کوونکي به د لاندې تورو غږ سم ادا کړي، پوره او نیمه شکل به یې وپېژني، سم به یې ولولي او وبه یې لیکي.

ث	ټ	ت	پ	ب	آ	ا

ا ا ا ا ا ا ا

آ آ آ آ آ آ آ

ب ب ب ب بـ بـ بـ

پ پ پ پ پـ پـ پـ

ت ت ت ت تـ تـ تـ

ټ ټ ټ ټ ټـ ټـ ټـ

ث ث ث ث ثـ ثـ ثـ

ثب ثا اث بپ آپ تث اټ

(c) ketabton.com: The Digital Library

فعالیتونه

ـ یو زده کوونکی دې توري ولولي او نور دې ورته غوږ ونیسي.

ـ یو زده کوونکی دې توري ولولي او نور زده کوونکي دې ورپسې تکرار کړي.

ـ دوه دوه زده کوونکي دې توري د کتاب له مخې له یو بل سره ولولي.

مشق او تمرین

ـ زده کوونکي دې د (ا) توری څو واري د تختې پر مخ ولیکي.

ـ زده کوونکي دې د (ا) شکل څو واري ولیکي.

ـ زده کوونکي دې د (ب او بـ) شکل څو واري ولیکي.

کورنۍ دنده:

زده کوونکي دې د پورتنیو تورو پوره او نیمه شکل په خپلو کتابچو کې ولیکي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دویم لوست:

موخه: زده کوونکي به د (ج) او نورو هم شکلو تورو غږ سم ادا کړي، پوره او نیمه شکل به یې وپېژني، سم به یې ولولي او وبه یې لیکي.

ج	چ	ح	خ	ځ	څ

ج ج ج ج جـ جـ جـ

چ چ چ چ چـ چـ چـ

ح ح ح ح حـ حـ حـ

خ خ خ خ خـ خـ خـ

ج ج ج ج جـ جـ جـ

څ څ څ څ څـ څـ څـ

جح حج چخ حځ څح جچ

(c) ketabton.com: The Digital Library

فعالیتونه

ـ زده کوونکي دې په وار سره توري ولولي او نور دې ورته غوږ ونیسي.

ـ زده کوونکي دې توري د کتاب له مخې ولولي او نور دې ورپسې تکرار کړي.

ـ زده کوونکي دې په وار سره توري ولولي او یو یو توری دې پر تختې ولیکي.

مشق او تمرین

ـ زده کوونکي دې د (ج) توری څو وارې د تختې پر مخ ولیکي.

ـزده کوونکي دې د (جـ) نیمه شکل څو وارې تمرین کړي.

ـ زده کوونکي دې د (ج ـ څ) تورو توپیر په شکل کې وښیي.

کورنۍ دنده:

زده کوونکي دې د پورتنیو تورو پوره او نیمه شکل په خپلو کتابچو کې ولیکي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دریم لوست:

موخه: زده کوونکي به د لاندې تورو غږ سم اداکړي، پوره او نیمه شکل به یې وپېژني، سم به یې ولولي او وبه یې لیکي.

د	ډ	ذ	ر	ړ	ز	ژ	ږ

د د د د د د د د

ډ ډ ډ ډ ډ ډ ډ ډ

ذ ذ ذ ذ ذ ذ ذ ذ

ر ر ر ر ر ر ر ر

ړ ړ ړ ړ ړ ړ ړ ړ

ز ز ز ز ز ز ز ز

ژ ژ ژ ژ ژ ژ ژ ژ

ږ ږ ږ ږ ږ ږ ږ ږ

رز رژ ږژ رډ ږر رذ ژډ

(c) ketabton.com: The Digital Library

فعالیتونه

ـ زده کوونکي دې توري د کتاب له مخې ولولي او نور دې وریسې تکرار کړي.

ـ یو یو زده کوونکی دې توري د کتاب له مخې ولولي او بیا دې هغه توري پر تختې ولیکي.

مشق او تمرین

ـ زده کوونکي دې په وار سره یو یو توری پر تختې ولیکي او د هم شکلو تورو توپیر دې له یو بل سره وښیي.

کورنۍ دنده:

زده کوونکي دې پورتني توري په خپلو کتابچو کې ولیکي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

خلورم لوست:

موخه: زده کوونکي به د لاندې تورو غږ سم ادا کړي، پوره او نیمه بڼه به يې وپېژني، سم به يې ولولي او وبه يې ليکي.

س	ش	ښ	ص	ض	ط	ظ	ع	غ

س س س س س س سـ سـ سـ

ش ش ش ش ش ش شـ شـ شـ

ښ ښ ښ ښ ښ ښ ښـ ښـ ښـ

ص ص ص ص ص ص صـ صـ صـ

ض ض ض ض ض ض ضـ ضـ ضـ

ط ط ط ط ط ط ط ط ط

ظ ظ ظ ظ ظ ظ ظ ظ ظ

ع ع ع ع ع ع عـ عـ عـ

غ غ غ غ غ غ غـ غـ غـ

سط سغ طع غش شظ ضظ ضښط شص

(c) ketabton.com: The Digital Library

فعالیتونه

ـ یو زده کوونکی دې توري د کتاب له مخې ولولي او نور دې ورته غوږ ونیسي.

ـ یو یو زده کوونکی دې توري ولولي او نور زده کوونکي دې ورپسې تکرار کړي.

ـ زده کوونکي دې په وار سره توري ولولي او بیا دې یو یو توری پر تختې ولیکي.

مشق او تمرین

ـ زده کوونکي دې د پورتنیو تورو شکلونه څو وارې پر تختې ولیکي.

ـ زده کوونکي دې د هر توري نیمه شکل څو وارې پر تختې ولیکي.

کورنۍ دنده:

زده کوونکي دې د پورتنیو تورو نیمه او پوره شکل څو وارې په خپلو کتابچو کې ولیکي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پنځم لوست:

موخه: زده کوونکي به د لاندې تورو غږ سم ادا کړي، پوره او نیمه بڼه به یې وپېژني، سم به یې ولولي او وبه یې لیکي.

ف	ق	ک	گ	ل	م	ن	ڼ	و

ف ف ف ف ف ف فـ فـ فـ

ق ق ق ق ق ق قـ قـ قـ

ک ک ک ک ک ک کـ کـ کـ

گ گ گ گ گ گ گ گ گ

ل ل ل ل ل ل لـ لـ لـ

م م م م م م مـ مـ مـ

ن ن ن ن ن ن نـ نـ نـ

ڼ ڼ ڼ ڼ ڼ ڼ ڼـ ڼـ ڼـ

و و و و و و و و و

فل گک فم ون ول مف قم قن

(c) ketabton.com: The Digital Library

فعالیتونه

ـ یو یو زده کوونکی دې توري د کتاب له مخې ولولي او نور دې ورپسې تکرار کړي.

ـ زده کوونکي دې په وار سره توري د کتاب له مخې ولولي او بیا دې هر یو زده کوونکی یو یو توری پر تختې ولیکي.

ـ څو زده کوونکي دې په وارسره پر تختې لیکل شوي توري ټولګیوالوته ولولي.

مشق او تمرین

ـ زده کوونکي دې د پورتنیو تورو پوره شکلونه څو وارې پر تختې ولیکي.

ـ زده کوونکي دې د تورو نیمه شکلونه څو وارې پر تختې ولیکي.

کورنۍ دنده:

زده کوونکي دې د پورتنیو تورو پوره او نیمه شکلونه څو وارې په خپلو کتابچو کې ولیکي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

شپږم لوست:

موخه: زده کوونکي به د لاندې تورو غږ سم اداکړي، پوره او نیمه شکل به یې وپېژني، سم به یې ولولي او وبه یې لیکي.

هـ	ه	ى	ي	ې	ے	ئ

هـ هـ هـ هـ هـ هـ هـ

ه ه ه ه ه ه ه

ى ى ى ى ى ى ى

ې ې ې ې ېـ ېـ ېـ

ي ي ي ي يـ يـ يـ

ے ے ے ے ے ے ے

ئ ئ ئ ئ ئ ئ ئ

هى هه هے يى هې هي

(c) ketabton.com: The Digital Library

فعالیتونه

ـ زده کوونکي دې په وار سره توري ولولي او نور زده کوونکي دې ورته غوږ ونیسي.

ـ زده کوونکي دې په وار سره توري ولولي او نور زده کوونکي دې وروسته تکرار کړي.

ـ زده کوونکي دې (ی) ګانې پر تختې ولیکي او توپیر ته دې پاملرنه وکړي.

مشق او تمرین

ـ زده کوونکي دې د پورتنیو تورو پوره شکلونه څو وارې پر تختې ولیکي.

ـ زده کوونکي دې د (هـ) دواړه شکلونه (هـ - ه) څو وارې پر تختې ولیکي.

ـ زده کوونکي دې د (ی) نیمه او پوره شکل څو وارې په خپلو کتابچو کې ولیکي.

کورنۍ دنده:

زده کوونکي دې د پورتنیو تورو پوره او نیمه شکلونه څو وارې په خپلو کتابچو کې ولیکي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

اووم لوست:

ا

موخه: زده کوونکي به د (الف) غږ سم ادا کړي، بڼه او نوم به يې وپېژني او سم به يې وليکي.

پوښتنه

څوک به ووايي چې موږ د چا بنده‌گان يو؟

الله جل جلاله

الله جل جلاله يو دی.

الله جل جلاله شريک نه لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

فعالیتونه

انار

ناک

بابا

ـ زده کوونکي دې په وار سره د (الف) غږ ادا او نور زده کوونکي دې ورته غوږ ونیسي.

ـ زده کوونکي دې په وار سره د متن جملې ولولي او نور دې ورپسې تکرار کړي.

ـ زده کوونکي دې د (الف) توری د (انار، ناک، بابا) په کلمو کې وښیي او بیا دې په خپلو کتابچو کې ولیکي.

مشق او تمرین

ـ زده کوونکي دې د (الف) توری د تختې پر مخ ښو وارې مشق او تمرین کړي.

ـ زده کوونکي دې د (یو ـ دی) کلمې د تختې پر مخ ښو وارې مشق او تمرین کړي.

کورنۍ دنده:

زده کوونکي دې د (الف) توری ښو وارې په خپلو کتابچو کې ولیکي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

اتم لوست:

آ

موخه: زده کوونکي به د (آ) غږ سم اداکړي، بڼه او نوم به يې وپېژني او سم به يې وليکي.

پوښتنې

ـ څوك به ووايي چې په پورتني عکس کې څهويني؟
ـ له تاسو څخه چا آس ليدلی، هغه مو خوښېږي؟

آس

دا آس دی.

بابا آس لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

فعالیتونه

آسمان

آس

آلو

ــ زده کوونکي دې په وار سره د (آ) غږ په یوازې توګه ادا او نور دې ورته غوږ ونیسي.

ــ څو زده کوونکي دې د آسمان، آلو او آس کلمې د کتاب له مخې پر تختې ولیکي او (آ) توري دې په کې وښیي.

ــ زده کوونکي دې د (الف او آ) تورو توپیر وښیي.

مشق او تمرین

ــ زده کوونکي دې د (دا ــ بابا ــ آس) کلمې په خپلو کتابچو کې مشق او تمرین کړي.

ــ زده کوونکي دې (آ ــ س ← آس)، (با ــ با ← بابا) په خپلو کتابچو کې مشق او تمرین کړي.

کورنۍ دنده:

زده کوونکي دې متن ولولي د آسمان، آس او آلو کلمې دې په خپلو کتابچو کې ولیکي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

نهم لوست:

ب

موخه: زده کوونکي به د (ب) غږ اداکړي، نوم او بڼه به يې وپېژني او سم به يې وليکي.

پوښتنه

ـ تاسو په پورتني عکس کې څه وينئ؟

بابا

دا بابا دی.

بابا باغ لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

فعالیتونه

بیل

بابا

کتاب

ـ زده کوونکي دې په وار سره د (ب) غږ اداکړي.

ـ زده کوونکي دې په وار سره یوه جمله د ټولګي په مخ کې ولولي او نور دې وریسې تکرار کړي.

ـ زده کوونکي دې (بیل، بابا، کتاب) کلمې په وار سره ولولي او د تختې پر مخ دې ولیکي او بیا دې د (ب) توری په کې وښیي.

مشق او تمرین

ـ زده کوونکي دې د (باغ، بابا، کتاب) کلمې د تختې پر مخ ولیکي.

ـ زده کوونکي دې د لاندې کلمو توري سره یو ځای او بیا دې په خپلو کتابچو کې څو واري تمرین کړي.

با ـ با ← بابا

با ـ غ ← .....

لر ـ ی ← .....

کورنۍ دنده:

زده کوونکي دې د متن جملې ولولي او بیا دې څو واري په خپلو کتابچو کې ولیکي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

لسم لوست:

پ

موخه: زده کوونکي به د (پ) غږ سم اداکړي، بڼه او نوم به یې وپېژني او سم به یې ولیکي.

پوښتنې

ـ تاسو په پورتني عکس کې څه شی وینئ؟
ـ تاسو په پله باندې د تېرېدلو په وخت کې څه شي ته پاملرنه کوئ؟

پُل

دا پُل دی.

سیند پُل لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

فعالیتونه

پیاله

څپلۍ

توپ

- زده کوونکي دې په وار سره د (پ) غږ په سمه توګه ادا او نور دې ورته غوږ ونیسي.
- څو زده کوونکي دې د (پ) له توري سره نور توري یو ځای او بشپړې کلمې دې ترې جوړې کړي.

پ + یاله	←	پیاله
پ + ل	←	....
پ + اک	←	....

- څو زده کوونکي دې په وار سره د متن یوه یوه جمله د ټولګي په مخ کې ولولي او نور دې ورته غوږ ونیسي.

مشق او تمرین

- زده کوونکي دې د (توپ، پُل) کلمو توري جلا جلا پر تختې ولیکي.
- زده کوونکي دې د (پیاله، څپلۍ، توپ) کلمې په خپلو کتابچو کې مشق او تمرین کړي.

کورنۍ دنده:

زده کوونکي دې متن ولولي او د (پیاله، څپلۍ او توپ) کلمې دې په خپلو کتابچو کې څو واري ولیکي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

يوولسم لوست:

ت

موخه: زده کوونکي به د (ت) غږ سم اداکړي، نوم او بڼه به يې وپېژني او سم به يې وليکي.

پوښتني

ـ تاسو کله توت خوړلي او هغه مو خوښېږي؟

ـ څوک به ووايي چې د ناپاکو توتانو خوړل روغتيا ته څه زيان رسوي؟

توت

دا توت دي.

توت ونه لري.

زه پاخه او پاک توت خورم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

فعالیتونه

توپ

کتاب

توت

ـ زده کوونکي دې په وار سره د (ت) غږ په یوازې توګه ادا او نور دې ورته غوږ ونیسي.
ـ ځو زده کوونکي دې له لاندې ورکړ شوو تورو څخه بشپړې کلمې جوړې او پر تختې دې ولیکي.

ت ـ وپ ← توپ
ت ـ وت ← ....
ت ـ ار ← ....

مشق او تمرین

ـ یو زده کوونکی دې د (توپ، کتاب، توت) کلمې د کتاب له مخې پر تختې ولیکي او بل زده کوونکی دې د (ت) توری په کلمو کې وښیي.
ـ زده کوونکي دې په وار سره د (توپ، کتاب، توت) کلمې په خپلو کتابچو کې مشق او تمرین کړي.

کورنۍ دنده:

زده کوونکي دې متن ولولي او د (توت، ونه، پاخه او خورم) کلمې دې په خپلو کتابچو کې د کتاب له مخې څو وارې ولیکي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دولسم لوست:

ټ

موخه: زده کوونکي به د (ټ) غږ سم اداکړي، بڼه او نوم به يې وپېژني او سم به يې وليکي.

پوښتنې

ــ څوک به ووايي چې په پورتني انځور کې څه شیان ويني؟

ــ له تاسو څخه د چا ټال خوښېږي؟

ټال

زما ټال خوښ دی.

په ټال کې ورو ورو زانګو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

فعالیتونه



ټال　　　　موټر　　　　کټ

ـ زده کوونکي دې په وارسره د (ټ) غږ په یوازې توګه ادا او نور دې ورپسې تکرار کړي.

ـ زده کوونکي دې په وار سره متن په مناسب آواز ولولي او یوه، یوه کلمه دې پر تختې ولیکي.

ـ څو زده کوونکي دې د (ت او ټ) د تورو توپیر وښیي.

مشق او تمرین

ـ زده کوونکي دې د (ټال، موټر، کټ) کلمې د کتاب له مخې په تختې ولیکي او د (ټ) له توري څخه دې کرښې وباسي.

ـ زده کوونکي دې دا لاندې توري سره یو ځای او کلمې دې ترې جوړې او د تختې پر مخ دې ولیکي.

ټا_ل ← ټال،　　　ک ـ ټ ← ....

مو ـ ټر ← ....،　　　زا ـ نګو ← ....

کورنۍ دنده:

زده کوونکي دې متن ولولي او بیا دې د کتاب له مخې (ټال، خوښ، ورو، ورو، زانګو، کټ او موټر) کلمې په خپلو کتابچو کې څو وارې ولیکي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دیارلسم لوست:

ث

موخه: زده کوونکي به د (ث) غږ سم اداکړي، بڼه او نوم به یې وپېژني او سم به یې ولیکي.

پوښتنه

ـ تاسو په پورتني عکس کې څه وینئ خبرې پرې وکړئ؟

ثریا

ثریا زده کوونکې ده.

غیاث د ثریا ورور دی.

کوثر له ثریا سره درس لولي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

فعالیتونه

غیاث

کوثر

ثریا

ـ زده کوونکي دې په وارسره د (ث) غږ ادا او نور زده کوونکي دې ورته غوږ ونیسي.

ـ زده کوونکي دې په وار سره د متن جملې ولولي او یوه یوه کلمه دې پر تختې ولیکي.

مشق او تمرین

ـ زده کوونکي دې په وار سره د (ثریا، کوثر، غیاث) کلمې پر تختې ولیکي او نور زده کوونکي دې د (ث) توری په کې وښیي.

ـ زده کوونکي دې د (ثریا، کوثر، درس، ورور) کلمو توري جلا جلا ولولي، لکه: ثریا (ث ـ ر ـ ی ـ ا) او بیا دې د تختې پر مخ ولیکي.

کورنۍ دنده:

زده کوونکي دې متن ولولي او بیا دې په خپله خوښه د متن یوه یوه جمله په خپلو کتابچو کې څو ځلې ولیکي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

څوارلسم لوست:

ج

موخه: زده کوونکي به د (ج) غږ سم اداکړي، بڼه او نوم به يې وپېژني او سم به يې وليکي.

پوښتنې

ـ له تاسو څخه څوک جوار پېژني؟

ـ څوک به ووايي چې جوار خام که پاخه خوړل کېږي؟

جوار

اجمل جوار کري.

جوار خواږه دي.

مور جوار نه ماتوو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

فعالیتونه


جال

اجمل

برج

ـ څو زده کوونکي دې د (ج) غږ ادا کړي او نور زده کوونکي دې ورته غوږ ونيسي.
ـ زده کوونکي دې په وار سره متن ولولي بيا دې يوه يوه کلمه پر تختې وليکي.

مشق او تمرين

ـ زده کوونکي دې د چوکاټ له مخې د (ج) توری د نورو تورو په سر کې راوړي، کلمې دې ترې جوړې کړي او بيا دې هغه کلمې ولولي.

ج	وار	←	جوار
	ام	←	....
	ال	←	....

ـ زده کوونکي دې د (جال، اجمل، برج) کلمې پر تختې وليکي او بيا دې د (ج) توری په کې وښيي.

کورنۍ دنده:

زده کوونکي دې متن ولولي او د (اجمل، جوار، جال) کلمې دې په خپلو کتابچو کې څو وارې وليکي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پنځلسم لوست:

چ

موخه: زده کوونکي به د (چ) غږ په سمه توګه ادا کړي، نوم او بڼه به يې وپېژني او سم به يې وليکي.

پوښتنه

ـ ستاسو د کور په شاوخوا کې کوم چمن شته؟

چمن

چمن شین دی.

بابا چمن ته اوبه ورکوي.

مور چمن پاک ساتو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

فعالیتونه

چینه

مچی

مرچ

ـ ځو زده کوونکي دې د (چ) غږ په يوازې او ډله ييزه توګه سم ادا او نور دې ورته غږونه ونيسي.

ـ زده کوونکي دې د (ج او چ) د توروتوپير په غږ او بڼه کې وښيي.

ـ زده کوونکي دې (چينه، مچی، مرچ) کلمې د کتاب له مخې پر تختې وليکي او د (چ) توری دې په کې وښيي.

مشق او تمرين

ـ ځو زده کوونکي دې د لاندې شکل له تورو څخه بشپړې کلمې جوړې کړي او بيا دې پر تختې وليکي.

چ ← من ← چمن

چ ← ينه ← ....

چ ← ای ← ....

ـ زده کوونکي دې د (چمن، چينه، مچی، مرچ) کلمې په خپلو کتابچو کې مشق او تمرين کړي.

کورنۍ دنده:

زده کوونکي دې د متن جملې ولولي او بيا دې په خپلو کتابچو کې ځو وارې وليکي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

شپاړسم لوست:

ځ

موخه: زده کوونکي به د (ځ) غږ په سمه توګه ادا کړي، نوم او بڼه به يې وپېژني او سم به يې وليکي.



پوښتني

ـ تاسو په پورتني انځور کې څه وينئ؟
ـ تاسو وېلای شئ چې د ځاه اوبه څنګه پاکې ساتل کېږي؟

ځاه

موږ په کور کې ځاه لرو.

موږ د ځاه سر پټ ساتو.

د سرپټې ځاه اوبه، پاکې وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

فعالیتونه

څوکۍ ليمڅی سرلوڅ

ـ زده کوونکي دې د (څ) غږ ادا او نور زده کوونکي دې ورپسې تکرار کړي.
ـ زده کوونکي دې د (ج، څ، چ) د تورو توپير وښيي.
ـ زده کوونکي دې د (څوکۍ، ليمڅی او سرلوڅ) کلمې د کتاب له مخې پر تختې وليکي او د (څ) توری دې په نښه کړي.

مشق او تمرين

ـ زده کوونکي دې له لاندېنيو تورو څخه بشپړې کلمې جوړې کړي او دا تمرين دې په نورو تورو کې د تختې پر مخ تکرار کړي.



ـ زده کوونکي دې په وار سره د (څوکۍ، څاه، څوك، ليمڅی) کلمې په خپلو کتابچو کې مشق او تمرين کړي.

کورنۍ دنده:

زده کوونکي دې متن ولولي بيا دې د (څاه، پاکي، سر لوڅ، پټ، ليمڅي) کلمې په خپلو کتابچو کې څو واري وليکي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوولسم لوست:

ځ

موخه: زده کوونکي به د (ځ) غږ، سم ادا، نوم او بڼه به یې وپېژني او سم به یې ولیکي.

پوښتنې

ـ تاسې په پورتني عکس کې څه وینئ؟

ـ آیا تاسې کوم وخت د مرغانو ځاله لیدلې ده؟

ځاله

مرغان ځان ته ځالې جوړوي.

په ځالو کې هګۍ اچوي.

موږ د ځالو هګۍ نه ماتوو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

فعالیتونه

ځوان

ښځه

ږمنځ

ـ ځو زده کوونکي دې د (ځ) غږ په یوازې توګه ادا او نور دې ورته غوږ ونیسي.

ـ ځو زده کوونکي دې له لاندې تورو څخه بشپړې کلمې جوړې او بیا دې ولولي.

ځ + ا + ل + ه،   هـ + ګ + ی،   ږ + ه

مشق او تمرین

ـ زده کوونکي دې له لاندېنیو تورو څخه بشپړې کلمې جوړې او پر تختې دې ولیکي.

ځ — اله ← ځاله

ځ — وان ← ....

ځ — الي ← ....

ـ زده کوونکي دې خپل ځانونه نورو ته وروپېژني. لکه: زما نوم مینه ده. هغه دې بیا په تختې ولیکي

ـ زده کوونکي دې په وار سره د (هګۍ، ښځه، ږمنځ، ځاله) کلمې په خپلو کتابچو کې مشق او تمرین کړي.

کورنۍ دنده:

زده کوونکي دې متن ولولي بیا دې د (هګۍ، ښځه، ږمنځ، ځاله) کلمې په خپلو کتابچو کې څو وارې ولیکي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

اتلسم لوست:

ح

موخه: زده کوونکي به د (ح) غږ سم ادا کړي، نوم او بڼه به يې وپېژني او سم به يې وليکي.



پوښتنې

ـ څوک وېلای شي چې په پورتني عکس کې څه وينئ؟

حج

د فتاح مور او پلار حج ته ځي.

د حليمې بابا حج کړی دی.

مورږ د حاجيانو درناوی کوو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

فعالیتونه

حلیمه

تحفه

فتاح

ـ زده کوونکي دې په وار سره د (ح) غږ ادا او نور دې ورته غوږ ونیسي.
ـ زده کوونکي دې د متن کلمې په وار سره سمې تلفظ او نور دې ورپسې تکرار کړي.
ـ څو زده کوونکي دې د (ح او ج) د تورو په توپیر خبرې وکړي.

مشق او تمرین

ـ څو زده کوونکي دې په لاندې شکل کې له تورو څخه بشپړې کلمې جوړې او پر تختې دې ولیکي.

ح	لیمه ←	حلیمه
	ج ←	....
	اجي ←	....

ـ زده کوونکي دې د (حلیمه، تحفه او فتاح) کلمې ولولي او بیا دې د (ح) توری پکې وښیي.
ـ زده کوونکي دې د (حلیمه، تحفه، فتاح، حج) کلمې په خپلو کتابچو کې مشق او تمرین کړي.

کورنۍ دنده:

زده کوونکي دې د مشق او تمرین لومړی فعالیت په خپلو کتابچو کې ولیکي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

نولسم لوست:

خ

موخه: زده کوونکي به د (خ) غږ سم ادا کړي، نوم او بڼه به يې وپېژني او سم به يې وليکي.

پوښتنې

_ له تاسو څخه چا خرما خوړلې ده؟

_ ويلای شئ تاسو کله د خرما ونه ليدلې ده؟

خرما

خرما خوږه ده.

خرما ونې لري.

د خرما خوړل ګټې لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

فعالیتونه

خټکی

تخته

مخ

ـ څو زده کوونکي دې د (خ) غږ ادا او نور دې ورته غوږ ونیسي.

ـ څو زده کوونکي دې په وار سره د متن کلمې سمې تلفظ او بیا دې د تختې پر مخ ولیکي.

ـ څو زده کوونکي دې د (خ او ج) د تورو توپیر په غږ او بڼه کې وښيي.

مشق او تمرین

ـ زده کوونکي دې له لاندې تورو څخه بشپړې کلمې جوړې او بیا دې پر تختې ولیکي.

خ ← رما ← خرما

خ ← وره ← ....

خ ← وړل ← ....

ـ زده کوونکي دې په وار سره د (خټکی، مخ، تخته، خرما) کلمې په خپلو کتابچو کې ولیکي او ښې دې تمرین کړي.

کورنۍ دنده:

زده کوونکي دې متن ولولي او بیا دې د (خټکی، خوره، ګته، خوړل، مخ، تخته) کلمې په خپلو کتابچو کې څو وارې ولیکي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

شلم لوست:

د

موخه: زده کوونکي به د (د) غږ سم ادا کړي، نوم او بڼه به يې وپېژني او سم به يې وليکي.

پوښتنې

ـ تاسې په پورتني عکس کې څه وينئ؟
ـ آيا تاسې کله په خپل سر دوا خوړلې ده؟

درمل

دا درملتون دی.

ناروغ درملو ته اړتيا لري.

ناروغ بايد پر خپل وخت درمل وخوري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

فعالیتونه

درمل

بادام

رود

ـ یو زده کوونکي دې د (د) غږ په سمه توګه ادا او نور دې ورپسې تکرار کړي.

ـ یو، یو زده کوونکی دې په وار سره متن ولولي او نور دې ورته غوږ ونیسي. بیا دې یوه یوه کلمه د تختې پرمخ ولیکي.

مشق او تمرین

ـ زده کوونکي دې له لاندې تورو څخه بشپړې کلمې جوړې بیا دې په خپلو کتابچو کې مشق او تمرین کړي.

د ← رمل ← درمل

د ← ود ← ....

د ← ارو ← ....

ـ زده کوونکي دې په وار سره د (ناروغ، دود، درمل، بادام، رود) کلمې پر تختې ولیکي.

کورنۍ دنده:

زده کوونکي دې متن د کتاب له مخې ولولي. د (درمل، دوا، ناروغ، بادام، رود) کلمې دې په خپلو کتابچو کې خو وارې ولیکي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

يوويشتم لوست:

ډ

موخه: زده کوونکي به د (ډ) غږ سم ادا کړي، بڼه او نوم به يې وپېژني او سم به يې وليکي.

پوښتني

ـ تاسو په پورتني عکس کې څه وينئ؟

ـ څوک ويلای شي چې مور په کوم وخت کې ډاکټر ته اړتيا پيدا کوو؟

ډاکټره

ډيوه ډاکټره ده.

ډاکټره ناروغې ته درمل ليکي.

مور په خپل سر درمل نه خورو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

فعالیتونه



ډینګ

راډیو

ډنډ

ـ زده کوونکي دې په وار سره د (ډ) غږ په سمه توګه ادا کړي.

ـ یو، یو زده کوونکي دې په وار سره د متن جملې ولولي او نور دې ورپسې تکرار کړي.

ـ دوه زده کوونکي دې د ټولګي مخې ته راشي یو دې د کتاب له مخې د (ډوډۍ، راډیو، ډنډ) کلمې د تختې پر مخ ولیکي او بل دې د (ډ) توری پکې وښیي.

مشق او تمرین

ـ زده کوونکي دې د (د او ډ) د تورو توپیر په بڼه او غږ کې وښیي.

ـ زده کوونکي دې په لاندې شکل کې، توري سره ونښلوي او کلمې دې ترې جوړې کړي بیا دې پر تختې ولیکي.

ډ — یوه
ډ — اکټر
ډ — نډ

کورنۍ دنده:

زده کوونکي دې د متن جملې ولولي او بیا دې په خپلو کتابچو کې ولیکي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوه ویشتم لوست:

ذ

موخه: زده کوونکي به د (ذ) غږ سم ادا کړي، بڼه او نوم به يې وپېژني او سم به يې وليکي.

پوښتنه

ـ تاسو په پورتني عکس کې څه وينئ؟

ذاکر

ذاکر زده کوونکی دی.

ذاکر په خپل وخت ښوونځي ته ځي.

ذاکر خپل کتاب او کاغذونه هر ځای نه اچوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

فعالیتونه

ذاکر

آذان



کاغذ

ـ زده کوونکي دې د (ذ) غږ په سمه توګه ادا او نور دې ورته غوږ ونیسي.

ـ زده کوونکي دې په وار سره د متن جملې ولولي او نور دې وروسې تکرار کړي.

ـ زده کوونکي دې د (د، ذ) توري پر تختې ولیکي او توپیر دې په غږ او بڼه کې وښیي.

مشق او تمرین

ـ زده کوونکي دې په ډلو وویشل شي هره ډله دې د لاندېني شکل له تورو او نورو تورو څخه بشپړې کلمې جوړې کړي.

ذ — اکر ← ذاکر

ذ — ره بین ← ....

ذ — اکره ← ....

م — خ

م — شق

م — تن

ـ زده کوونکي دې د (کاغذ، ذره بین، ذاکر، آذان) کلمې د تختې پرمخ ولیکي بیا دې څو وارې مشق او تمرین کړي.

کورنۍ دنده:

زده کوونکي دې د متن جملې ولولي او بیا دې د (ذره بین، کاغذ، ذاکر، آذان، ذاکره) کلمې په خپلو کتابچو کې ولیکي او د (ذ) توری دې په نښه کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

درویشتم لوست:

ر

موخه: زده کوونکي به د (ر) غږ په سمه توګه ادا کړي، بڼه او نوم به يې وپېژني او سم به يې ولیکي.

پوښتنه

ـ تاسو په پورتني عکس کې څه وينئ؟

روژه

روژه په هر مسلمان فرض ده.

روژه په کال کې یوه میاشت وي.

روژه روغتیا ته ګټې رسوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

فعالیتونه

رمه　　　　اره　　　　اور

ـ ښوونکی دې د (ر) غږ په سمه توګه ادا او نور دې ورپسې تکرار کړي.

ـ زده کوونکي دې په وار سره د (رمه، اره، اور) کلمې د کتاب له مخې پر تختې ولیکي او ودې وایي چې د اور او نورو سوځوونکو شیانو څخه ځرنګه ځانونه وساتي او ښوونکی دې ورسره مرسته وکړي.

مشق او تمرین

ـ زده کوونکي دې په څو ډلو کې له لاندې تورو څخه چې په شکل کې ښودل شوي، بشپړې کلمې جوړې او بیا دې د تختې پرمخ ولیکي.

ر ـ وژه ← روژه

ر ـ وغ ← ....

ر ـ مه ← ....

ـ یو، یو زده کوونکی دې په وارسره د (روژه، اور، اره، رمه) کلمې پر تختې ولیکي او نور زده کوونکي دې هغه په خپلو کتابچو کې مشق او تمرین کړي.

کورنۍ دنده:

زده کوونکي دې د متن جملې ولولي او بیا دې څو وارې په خپلو کتابچو کې ولیکي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

خلورویشتم لوست:

ړ

موخه: زده کوونکي به د (ړ) غږ په سمه توګه ادا، نوم او بڼه به يې وپېژني او سم به يې ولیکي.

پوښتنه

ـ ځوك به ووايي چې له ړندو سره څه ډول مرسته کولای شو؟

ړوند

دا ړوند دی.

ړوند انسان هم لوستل او لیکل کولای شي.

موږ باید له ړندو سره مرسته وکړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

فعالیتونه

ړوند

لړم

ګیدړ

ـ زده کوونکي دی په وار سره د (ړ) غږ ادا او نور دې ورته غوږ ونیسي.

ـ زده کوونکي دې په وار سره متن په مناسب آواز ولولي او نور دې وریسې تکرار کړي.

ـ زده کوونکي دې د (ړوند ـ لړم ـ ګیدړ) کلمې د کتاب له مخې پر تختې ولیکي. نور دې د هغو توري ووايي او د (ړ) توری دې پکې وښيي.

مشق او تمرین

ـ زده کوونکي دې د (ر ـ ړ) د تورو توپير په غږ او بڼه کې وښيي او پر تختې دې ولیکي.

ـ څو زده کوونکي دې د ټولګي مخې ته راشي او له لړم څخه د ځان ساتنې په هکله خبرې وکړي. ښوونکی دې ورسره مرسته او لارښوونه وکړي.

کورنۍ دنده:

زده کوونکي دې د متن جملې ولولي او بیا دې په خپلو کتابچو کې ولیکي او د (ړ) توری دې پکې په نښه کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پنځه ویشتم لوست:

ز

موخه: زده کوونکي به د (ز) غږ سم ادا کړي، بڼه او نوم به یې وپېژني او په سمه توګه به یې ولیکي.

پوښتنې

ـ تاسو په پورتني عکس کې څه وینئ؟
ـ تاسو سره په درسونو کې څوک مرسته کوي؟

زده کوونکې

زرمینه زده کوونکې ده.

د زرمینې خور زرغونه ښوونکې ده.

زرغونه له خپلې خور سره په درسونو کې مرسته کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

فعالیتونه

زر

زلزله



مېز

ـ زده کوونکي دې په وارسره د (ز) غږ ادا او نور دې ورته غوږ ونیسي.

ـ زده کوونکي دې په وار سره د متن جملې ولولي او نور زده کوونکي دې ورپسې تکرار کړي.

ـ زده کوونکي دې په وار سره د ټولګي مخې ته راشي او په دې اړه دې خبرې وکړي چې د زلزلې په وخت کې د ځان د ژغورنې لپاره باید څه وکړو؟

مشق او تمرین

ـ زده کوونکي دې په وار سره له لاندېنیو تورو څخه کلمې جوړې او پر تختې دې ولیکي.

ز ـ ر ← زر

ز ـ ل ـ م ـ ی ←.......... ز ـ ل ـ ز ـ ل ـ ه ←..........

ز ـ ر ـ غ ـ و ـ ن ـ ه ←.......... م ـ ي ـ ز ←..........

ـ یو زده کوونکی دې د (زرمینه، زلزله، مېز، زرغونه، زلمی، زده کوونکی) کلمې د کتاب له مخې د تختې پرمخ ولیکي او نور دې د (ز) توری پکې وښیي.

کورنۍ دنده:

زده کوونکي دې څو (ز) لرونکې کلمې په خپلو کتابچو کې ولیکي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

شپږویشتم لوست:

ژ

موخه: زده کوونکي به د (ژ) غږ په سمه توګه ادا کړي، بڼه او نوم به يې وپېژني او سم به يې وليکي.

پوښتنې

ـ په پورتني عکس کې څه وينئ؟
ـ تاسو د ژمي په سړو کې څه ډول جامې اغوندئ؟

ژمی

ژمی د کال څلورم فصل دی.

په ژمي کې هوا سړه وي.

موږ باید تاوده کالي واغوندو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

فعالیتونه

ژمی

روژه

ژړا

ـ زده کوونکي دې په وار سره د (ژ) غږ په سمه توګه ادا او نور دې ورپسې تکرار کړي.

ـ زده کوونکي دې په وار سره د متن جملې ولولي او نور دې ورته غوږ ونیسي.

ـ یو زده کوونکی دې د کتاب له مخې د (ژبه، ژمی، روژه) کلمې پر تختې ولیکي او نور دې د (ژ) توری پکې وښیي.

مشق او تمرین

ـ زده کوونکي دې په څو ډلو ووېشل شي او هر ډله دې له لاندې تورو څخه بشپړې کلمې جوړې بیا دې پر تختې ولیکي.

ژ ـ می ← ژمی

ژ ـ به ← ....

ژ ـ ړا ← ....

ـ زده کوونکي دې په وار سره د (ژبه، ژمی، ژړا، تاوده، سره) کلمې په تورو ووېشي، لکه: (ژ ـ ب ـ ه) او د تختې پرمخ دې ولیکي.

کورنۍ دنده:

زده کوونکي دې د ژمي د متن یوه جمله په خپلو کتابچو کې ولیکي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

اووه ویشتم لوست:

ړ

موخه: زده کوونکي به د (ړ) غږ په سمه توګه ادا کړي، بڼه او نوم به يې وپېژني او سم به يې وليکي.

پوښتنې

ــ تاسو په پورتني عکس کې څه شی وینئ؟
ــ تاسو د ژمي په سړو کې څه ډول جامې اغوندئ؟

ږمنځ

دا ږمنځ پاکه ده.

وېښته ږمنځول ګټې لري.

ورمه په خپلې ږمنځې وېښتان ږمنځوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

فعالیتونه

ږمنځ

وږی



غوږ

ـ ځو زده کوونکي دې د (ږ) غږ په سمه توګه ادا او نور دې ورته غوږ ونيسي.

ـ ځو زده کوونکي دې په وار سره متن ولولي او نور دې ورپسې تکرار کړي.

ـ زده کوونکي دې د (وږي، غوږ، ږمنځ) په کلمو کې د (ږ) توری وښيي.

مشق او تمرین

ـ زده کوونکي دې په ډلو وویشل شي هره ډله دې له دغو تورو څخه کلمې جوړې کړي،

لکه: و ـ ږ ـ م ـ ه ← وږمه

ګ ـ ټ ـ ه ← ....

و ـ ږ ـ ی ← ....

غ ـ و ـ ږ ← ....

ـ زده کوونکي دې د (ږمنځ، وږښتان، وږمه، ږمنځول) کلمې د تختې پرمخ وليکي او په تورو دې وویشي.

کورنی دنده:

زده کوونکي دې متن ولولي او بیا دې د (ږمنځ، وږمه، وږی، غوږ، وږښتان) کلمې څو واري په خپلو کتابچو کې وليکي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

اته ویشتم لوست:

س

موخه: زده کوونکي به د (س) غږ په سمه توګه اداکړي، نوم او بڼه به يې وپېژني، سم به يې ولولي او وليکي.

پوښتني

ـ تاسې په پورتني عکس کې څه وينئ؟

ـ څوک ويلای شي چې تاسې له کوم ډول سبو سره مينه لرئ؟

سابه

سابه ښه خواړه دي.

سابه روغتيا ته ګټه رسوي.

موږ بايد پاک او تازه سابه وخورو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

فعالیتونه

سیلاب

رسۍ

آس

ـ زده کوونکي دې د (س) غږ په سمه توګه ادا او نور زده کوونکي دې ورته غوږ ونیسي.

ـ زده کوونکي دې د (سیلاب، رسۍ، آس) کلمې د کتاب له مخې پر تختې ولیکي او د (س) توري دې پکې وښیي.

ـ څو زده کوونکي دې په وار سره د ټولګي مخې ته راشي او په دې هکله دې خبرې وکړي چې د سیلاب یا تېز باران په وخت کې څنګه خپل ځانونه وساتي، ښوونکی دې ورسره مرسته وکړي.

مشق او تمرین

ـ زده کوونکي دې د (سیلاب، رسۍ، آس) کلمې په تورو وویشي او په خپلو کتابچو کې دې ولیکي.

کورنۍ دنده:

زده کوونکي دې متن ولولي او بیا دې د (سابه، روغتیا، رسۍ، ګټه، آس) کلمې په خپلو کتابچو کې ولیکي او د (س) توری دې پکې په نښه کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

نهه ویشتم لوست:

ش

موخه: زده کوونکي به د (ش) غږ ادا کړي، نوم به يې ويېژني او بڼه به يې سمه وليکي.

پوښتنې

ـ څوک رمه پیايي؟
ـ له تاسو څخه څوک ویلای شي چې د رمو ساتل څه ګټې لري؟

شپون

شاکر شپون دی.

شپون خپله رمه ښه ساتي.

د رمو ساتل ګټې لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

فعالیتونه

شمع

ماشین

داش

ـ زده کوونکي دې د متن جملې ولولي او د (ش) غږ دې پکې سم ادا کړي.

ـ یو زده کوونکي دې د (شمع، ماشین او داش) کلمې د کتاب له مخې پر تختې ولیکي او نور دې د (ش) توری پکې وښیي.

مشق او تمرین

ـ هر زده کوونکی دې په وار سره داسې یوه کلمه ووایي چې (ش) توری پکې راغلی وي.

ـ زده کوونکي دې په لاندې شکل کې د تورو په نښلولو سره کلمې جوړې او پر تختې دې ولیکي.

ش ــ پون

ش ــ اکر

ش ــ ین

ـ زده کوونکي دې د (شپون، شاکر، شین، ساتل) کلمې په تورو واړوي.

کورنۍ دنده:

زده کوونکي دې دویم فعالیت په خپلو کتابچو کې ولیکي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دیرشم لوست:

ښ

موخه: زده کوونکي به د (ښ) غږ اداکړي، نوم به يې وپېژني او بڼه به يې سمه وليکي.

پوښتنه

ـ څوک ويلای شي چې په پورتني عکس کې څه وينئ؟

ښار

د کابل ښار ښکلی دی.

د کابل ښار پر موږ ډېر ګران دی.

موږ خپل ښار پاک ساتو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

فعالیتونه

ښارو

نښان

اوښ

ـ زده کوونکي دې د (ښ) غږ په سمه توګه ادا او نور دې ورته غوږ ونيسي.

ـ زده کوونکي دې د متن جملې ولولي او د متن يوه يوه کلمه دې پر تختې وليکي.

مشق او تمرين

ـ زده کوونکي دې په درې ډلو وويشل شي، هره ډله دې لاندېنۍ کلمې پر تختې وليکي او بيا دې په توړو وويشي، لکه:

ـ ښار:　　　ـ ښارو:　　　ـ نښان:

ـ زده کوونکي دې د (ش او ښ) د توړو په توپير ځانونه ويوهوي او په کلمو کې دې وښيي.

ـ زده کوونکي دې دا لاندې توري سره ونښلوي او جوړې شوې کلمې دې په خپلو کتابچو کې مشق او تمرين کړي.

ښ ــ ار

ښ ــ ارو

ښ ــ کلي

کورنۍ دنده:

زده کوونکي دې د متن جملې ولولي او بيا دې په خپلو کتابچو کې دوه واري وليکي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

يو دېرشم لوست:

ص

موخه: زده کوونکي به د (ص) غږ په سمه توګه ادا کړي، نوم به يې وپېژني او بڼه به يې سمه وليکي.

پوښتني

ـ په پورتني عکس کې څه شی وينئ؟
ـ څوك ويلای شي چې د صابون کارول څه ګټې لري؟

صابون

ناصر صابون راووړ.

بصيره په صابون لاسونه مينځي.

په صابون د لاسونو مينځل ګټې لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

فعالیتونه

صابون

ناصر



اخلاص

ـ زده کوونکي دې د (ص) غږ په سمه توګه ادا او نور دې ورپسې تکرار کړي.

ـ زده کوونکي دې متن په وار سره ولولي او نور زده کوونکي دې ورته غوږ ونیسي.

ـ زده کوونکي دې په وار سره د (ناصر، بصیره، صابون) په کلمو کې د (ص) توری په نښه کړي.

مشق او تمرین

ـ زده کوونکي دې په وار سره په دې اړه خبرې وکړي چې موږ څه وخت باید په صابون لاسونه ومینځو؟

ـ زده کوونکي دې د لاندېنې شکل له تورو څخه کلمې جوړې بیا دې پر تختې ولیکي.

	ر	ي	ص	
ه	ر	ي	ص	ب
	ا	ب	ا	

کورنۍ دنده:

زده کوونکي دې د (صابون، ناصر، صندلۍ، خلاص، نصیر، ګټې) کلمې په خپلو کتابچو کې ولیکي

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوه دېرشم لوست:

ض

موخه: زده کوونکي به د (ض) غږ په سمه توګه ادا کړي، نوم به يې وپېژني او بڼه به يې سمه وليکي.

پوښتنې

ــ تاسو په پورتني عکس کې څه وينئ؟

ــ تاسو کوم وخت له چا سره مرسته کړې ده؟

ضعيف

بابا ضعيف دی.

ضعيف مرستې ته اړ وي.

له ضعيف سره مرسته ښه کار دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

فعالیتونه

ضیاء

قضاوت

حوض

ـ زده کوونکي دې د (ض) غږ په سمه توګه ادا او نور دې ورته غوږ ونیسي.

ـ زده کوونکي دې د متن جملې په وار سره ولولي او نور دې ورپسې تکرار کړي.

ـ یو تن زده کوونکی دې د (ص او ض) توري پر تختې ولیکي، نور زده کوونکي دې په وارسره د هغو د توپیر په اړه خبرې وکړي.

مشق او تمرین

ـ زده کوونکي دې له لاندې تورو څخه کلمې جوړې او هغه دې په تختې مشق او تمرین کړي، لکه: (ض ـ ی ـ ا) ← ضیا

(م ـ ر ـ س ـ ت ـ ه) ← ....

(ق ـ ض ـ ا ـ و ـ ت) ← ....

(ض ـ ع ـ ي ـ ف) ← ....

(ح ـ و ـ ض) ← ....

(ر ـ ا ـ ض ـ ی ـ ه) ← ....

ـ څو زده کوونکي دې د ټولګي په وړاندې خپل نومونه ووایي او پر تختې دې ولیکي.

کورنۍ دنده:

زده کوونکي دې د تمرین لومړنی فعالیت په خپلو کتابچو کې ولیکي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

درې دېرشم لوست:

ط

موخه: زده کوونکي به د (ط) غږ په سمه توګه ادا کړي، نوم به يې وپېژني او بڼه به يې سمه وليکي.

پوښتنه

ـ تاسې کله طوطي ليدلی دی؟

طوطي

طاهر طوطي لري.

طوطي ښکلی مرغه دی.

لطيفه د طاهر خور ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

فعالیتونه

طوطي

سطل

خیاط

ـ زده کوونکي دې د (ط) غږ په سمه توګه ادا او نور دې ورته غوږ ونیسي.
ـ زده کوونکي دې په وار سره د متن جملې ولولي او نور زده کوونکي دې وریسې تکرار کړي.
ـ یو زده کوونکي دې د (سطل، خیاط، طاهره، طوطي) کلمې یوه یوه د تختې پرمخ ولیکي او نور زده کوونکي دې هغه په څپو وویشي، لکه: س ـ طل

مشق او تمرین

ـ زده کوونکي دې د ښوونکي په مرسته د ځینو مرغانو نومونه ووایي.
ـ زده کوونکي دې له لاندېنیو توروو څخه کلمې جوړې بیا دې پر تختې ولیکي.

ط	وطي	←	طوطي
	اهره	←	....
	اهر	←	....
	ارق	←	....

کورنۍ دنده:

زده کوونکي دې د درېیم فعالیت کلمې په خپلو کتابچو کې ولیکي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

څلور دېرشم لوست:

ظ

موخه: زده کوونکي به د (ظ) غږ سم ادا کړي، نوم به يې وپېژني او بڼه به يې سمه وليکي.

پوښتنه

ـ تاسو په پورتني عکس کې څه شی وينئ؟

ظاهره

ظاهره د حفيظ خور ده.

حفيظ او ظاهره ښوونځي ته ځي.

دوی په کور کې هم کار کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

فعالیتونه

ظاهره

حفیظه

حافظ

ـ زده کوونکي دې د (ظ) غږ په سمه توګه ادا او نور دې ورته غوږ ونیسي.
ـ زده کوونکي دې د متن جملې ولولي نور زده کوونکي دې په مناسب غږ ورپسې تکرار کړي.
ـ زده کوونکي دې (ظاهره، حافظ، حفیظه) کلمې پر تختې ولیکي او هغه دې په څپو ووېشي، لکه: ظا /هـ /ره

مشق او تمرین

ـ زده کوونکي دې د (ط او ظ) د توررو څو کلمې د تختې پرمخ ولیکي او د هغو توپیر دې په غږ او شکل کې وښیي.

کورنۍ دنده:

زده کوونکي دې (ظاهره، حافظ، حفیظه) کلمې په خپلو کتابچو کې ولیکي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پنځه دېرشم لوست:

ع

موخه: زده کوونکي به د (ع) غږ سم اداکړي، نوم به يې وپېژني او بڼه به يې سمه وليکي.

پوښتنه

ـ څوك ويلای شي چې مورږ ولې کتاب لولو؟

علم

علم پوهې ته وايي.

علم د ژوند رڼا ده.

بې علمه ژوندگران دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

فعالیتونه

عینکي

ساعت

شمع

ـ زده کوونکي دې د (ع) غږ په سمه توګه ادا او نور دې ورته غوږ ونیسي.

ـ زده کوونکي دې په وار سره د متن جملې ولولي او نور دې په مناسب غږ وریسې تکرار کړي.

ـ زده کوونکي دې په وار سره د (عینکې، ساعت او شمع) کلمې د تختې پرمخ ولیکي او پاتې کسان دې د تختې د مخ کلمې ولولي او د (ع) توری دې پکې وښیي.

مشق او تمرین

ـ زده کوونکي دې د (عینکې، ساعت او شمع) کلمې د کتاب له مخې پر تختې ولیکي او په ځپو دې وویشي، لکه: پو / هه

ـ زده کوونکي دې له لاندېنیو تورو څخه کلمې جوړې بیا دې د تختې پر مخ مشق او تمرین کړي.

ع ← لم

ع ← ینکي

ع ← سل

کورنۍ دنده:

زده کوونکي دې د متن جملې لومړی ولولي او بیا دې په خپلو کتابچو کې ولیکي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

شپږم دېرشم لوست:

غ

موخه: زده کوونکي به د (غ) غږ سم ادا کړي، نوم به يې وپېژني او بڼه به يې سمه وليکي.

پوښتنې

_ آيا تاسو خپل غاښونه مينځئ؟

_ ځوك ويلای شي چې د غاښونو پاک ساتل څه ګټې لري؟

غاښ

هره ورځ د غاښونو مينځل ګټې لري.

زرغونه خپل غاښونه په برس يا مسواک مينځي.

موږ په غاښونو کلک شيان نه ماتوو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

فعالیتونه

غر

کارغه

باغ

ـ زده کوونکي دې د (غ) غږ په سمه توګه ادا او نور دې ورته غوږ ونیسي.

ـ زده کوونکي دې په وار سره د متن یوه یوه جمله ولولي او نور دې وریسې تکرار کړي.

ـ زده کوونکي دې د (غر، کارغه، باغ، زرغونه، غاښ) کلمې د کتاب له مخې پر تختې ولیکي او د (غ) توری دې پکې وښیي.

مشق او تمرین

ـ زده کوونکي دې د تختې پرمخ د چوکاټ له مخې د (غ) له توري سره نور توري ونښلوي او کلمې دې ترې جوړې کړي.



ـ زده کوونکي دې د (غر، غاښونه، کارغه، مسواک، برس، زرغونه، باغ) کلمې د کتاب له مخې پر تختې ولیکي او بیا دې په ځپو ووېشي، لکه: زر / غو / نه

کورنۍ دنده:

زده کوونکي دې په خپلو کتابچو کې د مشق لومړی فعالیت د کورنۍ دندې په توګه ولیکي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوه دیرشم لوست:

ف

موخه: زده کوونکي به د (ف) غږ په سمه توګه ادا کړي، نوم به يې وپېژني او بڼه به يې سمه ولیکي.

پوښتنې

ـ تاسې کومې لوبې پېژنئ؟

ـ تاسو له کومې لوبې سره زياته مينه لرئ؟

فوټبال

فوټبال ښه لوبه ده.

فرهاد له رفيع سره فوټبال کوي.

فوټبال روغتيا ته ګټې لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

فعالیتونه

فیل

عارفه

نداف

ـ زده کوونکي دې د متن یوه یوه جمله ولولي او نور دې ورپسې تکرار کړي.

ـ زده کوونکي دې په وار سره د (فیل، عارفه، فوټبال، نداف) کلمې د تختې پرمخ ولیکي او د (ف) توری دې په نښه کړي.

ـ زده کوونکي دې د ځینو نورو لوبو نومونه واخلي.

مشق او تمرین

ـ زده کوونکي دې دا لاندې چوکاټ بشپړ کړي.

	ف		هـ	ا	د	فرهاد
	ع	ا	ر		ه	
	ف		ل			
ف		ټ		ا	ل	
	ن	د	ا			

کورنۍ دنده:

زده کوونکي دې د ځینو لوبو نومونه په خپلو کتابچو کې ولیکي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

اته دېرشم لوست:

ق

موخه: زده کوونکي به د (ق) غږ په سمه توګه اداکړي، نوم به يې وپېژني او بڼه به يې سمه ولیکي.

پوښتنه

ـ تاسو په څه شي لیکل کوئ؟

قلم

په قلم لیکل کېږي.

د اقبال خط ښکلی دی.

سبق په ویلو او لیکلو زده کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

فعالیتونه

قلم

اقبال

سبق

ـ زده کوونکي دې د (ق) غږ په سمه توګه ادا او نور دې ورپسې تکرار کړي.

ـ زده کوونکي دې په وار سره د متن جملې ولولي او نور دې یوه یوه کلمه پرتختې ولیکي او پاتې کسان دې کلمې په هیجاوو ووېشي.

مشق او تمرین

ـ زده کوونکي دې له لاندې تورو څخه کلمې جوړې بیا دې په تختې ولیکي او پاتې کسان دې هغه په تورو ووېشي.

(ق ـ ل ـ م) ← قلم

(ښ ـ ک ـ ل ـ ی) ← ....

(س ـ ب ـ ق) ← ....

(ل ـ ي ـ ک ـ ل) ← ....

(خ ـ ط) ← ....

(ا ـ ق ـ ب ـ ا ـ ل) ← ....

ـ زده کوونکي دې د (قلم، اقبال، سبق، لیکل، لوستل) کلمې د تختې پرمخ ولیکي او ودې وایي چې هره کلمه له څو تورو څخه جوړه شوې ده؟

کورنۍ دنده:

زده کوونکي دې د متن جملې ولولي او بیا دې په خپلو کتابچو کې څو وارې ولیکي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

نهه دېرشم لوست:

ک

موخه: زده کوونکي به د (ک) غږ په سمه توګه ادا کړي، نوم به يې وپېژني او بڼه به يې سمه وليکي.

پوښتنه

ـ تاسې په پورتني عکس کې څه وينئ؟

کور

هغه د کريم کور دی.

کريم او شاګرد خپل کور پاک ساتي.

دوی دواړه په کور کې کار کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

فعالیتونه

کدو


بشکر

ناک

ـ زده کوونکي دې د (ک) غږ په سمه توګه ادا او نور دې ورته غوږ ونیسي.
ـ زده کوونکي دې په وار سره د متن جملې ولولي او نور دې ورپسې تکرار کړي.

مشق او تمرین

ـ زده کوونکي دې په وار سره دا لاندې توري پر تختې ولیکي او نور زده کوونکي دې له هغو څخه کلمې جوړې کړي.

(ک ـ د ـ و) ← کدو

(ک ـ ت ـ ا ـ ب) ← .... (ک ـ ر ـ ی ـ م) ← ....

(بش ـ ک ـ ر) ← .... (ک ـ ر ـ ي ـ م ـ ه) ← ....

(ن ـ ا ـ ک) ← .... (ش ـ ا ـ ک ـ ر ـ ه) ← ....

ـ یو یو زده کوونکی دې ووایي چې د (زده کوونکي، کور، کریم، شاکره، کار، پاک) کلمې څو توري لري او د (ک) توری د کلمې په کومې برخې کې راغلی دی؟

کورنۍ دنده:

زده کوونکي دې د متن جملې له ځان سره ولولي او بیا دې په خپلو کتابچو کې ولیکي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

څلوېښتم لوست:

ګ

موخه: زده کوونکي به د (ګ) غږ په سمه توګه ادا، نوم به يې وپېژني او ښه به يې سمه وليکي.

پوښتني

ـ ستاسو په کور کې ګلان شته؟

ـ ستاسو کوم رنګ ګلان خوښېږي؟

ګل

ګل ښکلی رنګ او ښه بوی لري.

ګلالۍ او ننګیال ګلانو ته اوبه ورکوي.

موږ ګلان نه شکوو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

فعالیتونه

ګل

هګۍ

چرګ

ـ زده کوونکي دې د (ګ) غږ په سمه توګه ادا او نور دې ورپسې تکرار کړي.

ـ زده کوونکي دې په وار سره د متن جملې ولولي او نور دې ورته غوږ ونیسي.

ـ زده کوونکي دې د (ك او ګ) تورو توپیر په غږ او بڼه کې وښیي.

مشق او تمرین

ـ ځو زده کوونکي دې د (ګلالۍ، هګۍ او چرګ) کلمې د کتاب له مخې په تختې ولیکي او د (ګ) توری دې پکې وښیي.

ـ زده کوونکي دې د چوکاټ خالي ځایونه په تورو سره ډک او کلمې دې ترې جوړې کړي بیا دې پر تختې تمرین کړي.

چرګ ←	ګ		چ			
.... ←	ی	ل		ل	ګ	
.... ←	ل	ا	ی	ګ		
.... ←			ا	ل	ګ	

کورنۍ دنده:

زده کوونکي دې د متن جملې له ځان سره ولولي او بیا دې په خپلو کتابچو کې ولیکي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

يو څلوېښتم لوست:

ل

موخه: زده کوونکي به د (ل) غږ په سمه توګه ادا کړي، په نوم به يې پوه او بڼه به يې سمه وليکي.

پوښتنې

ـ څوک ويلای شي چې په پورتني عکس کې څه وينې؟
ـ څوک ويلای شي په هغو ورځو کې چې لمر نه وي، هوا څنګه وي؟

لمر

لمر مېوې او دانې پخوي.

لمر زموږ هډوکو ته قوت ورکوي.

تيز لمر ته ګرځېدل انسان ناروغه کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

فعالیتونه

لور

ملالۍ

ځنګل

ـ ځو زده کوونکي دې د (ل) غږ په سمه توګه ادا او نور دې ورته غوږ ونیسي.

ـ ځو زده کوونکي دې په وار سره د متن جملې ولولي او نور دې یوه یوه کلمه د کتاب له مخې پرتختې ولیکي.

مشق او تمرین

ـ ځو زده کوونکي دې د (لمر، ځنګل، ګټې، انسان، لور، ملالۍ، ګل) کلمې د ښوونکي په مرسته د تختې په مخ ولیکي او نور دې په وار سره دغه کلمې په تورو او ځپو وویشي.

ـ ځو زده کوونکي دې له متن څخه (ل) لرونکي کلمې پیدا او په خپلو کتابچو کې دې مشق او تمرین کړي.

کورنۍ دنده:

زده کوونکي دې د متن جملې له ځان سره ولولي او بیا دې په خپلو کتابچو کې ولیکي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوه شلوېښتم لوست:

م

موخه: زده کوونکي به د (م) غږ په سمه توګه ادا کړي، په نوم به يې پوه او بڼه به يې سمه ولیکي.

پوښتنه

ـ په تاسو باندې څوک ډېر ګران دي؟

مور

مور په ما ډېره ګرانه ده.

زه د خپلې مور او پلار خبرې منم.

مور د مور درناوی کوو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

فعالیتونه

مالټه

لیمو

معلم

ـ زده کوونکي دې د (م) غږ په سمه توګه ادا او نور دې ورته غوږ ونیسي.
ـ زده کوونکي دې په وار سره متن د ټولګي په مخ کې ولولي او نور دې ورپسې تکرار کړي.

مشق او تمرین

ـ زده کوونکي دې د لاندېنې چوکاټ له توررو څخه کلمې جوړې او په تختې دې ولیکي او بیا دې زده کوونکي په وار سره هغه په خپلو کتابچو کې مشق او تمرین کړي.

مالټه	ه	ټ	ل	ا	
			ړ	و	م
			ر	و	
		م	ل	ع	

ـ زده کوونکي دې له متن څخه د (م) لرونکي کلمې پیدا او پر تختې دې ولیکي وروسته دې د (م) توری په نورو کلمو کې مشق او تمرین کړي.

کورنۍ دنده:

زده کوونکي دې د (مالټه، مور، پلار، درناوی، ګرانه، خبرې، معلم، لیمو) کلمې په خپلو کتابچو کې ولیکي او د (م) توری دې پکې وښیي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

درې څلوېښتم لوست:

ن

موخه: زده کوونکي به د (ن) غږ سم اداکړي، په نوم به يې پوه او بڼه به يې سمه وليکي.

پوښتنه

ـ له تاسو څخه چا د نارنج ونې ليدلې دي؟

نارنج

نارنج ژېړ رنګ لري.

د نارنج ونې په ننګرهار کې ډېرې دي.

نارنج روغتيا ته ګټې لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

فعالیتونه

ناک

ونه

میچن

ـ زده کوونکي دې په وارسره د (ن) غږ په سمه توګه ادا او نور دې ورپسې تکرار کړي.
ـ زده کوونکي دې په وار سره د متن جملې ولولي او نور زده کوونکي دې یوه کلمه پر تختې ولیکي او (ن) دې پکې وښيي.

مشق او تمرين

ـ زده کوونکي دې د (نارنج، ژیړ، ګل، رنګ، ناک، ونه، مېچن) کلمې پر تختې ولیکي او دغه کلمې دې په تورو ووېشي.
ـ زده کوونکي دې په وار سره د ټولګي مخې ته راشي او د لاندني چوکاټ توري دې سره ونښلوي او کلمې دې ترې جوړې کړي.

	ژ	ي	ړ				← ژیړ
ر	و	غ	ت	ي	ا		← ....
ن	ا	ک					← ....
ګ	ټ	ه					← ....
ن	ن	ګ	ر	هـ	ا	ر	← ....

کورنۍ دنده:

زده کوونکي دې د (نارنج، ناک، ژیړ، ونې، ګټې، ونه) کلمې په خپلو کتابچو کې څو واري ولیکي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

څلور څلويښتم لوست:

ڼ

موخه: زده کوونکي به د (ڼ) غږ سم اداکړي، نوم به يې وپېژني او بڼه به يې سمه وليکي.

پوښتني

ـ څوک ويلای شي چې په پورتني عکس کې څه ويني؟
ـ آيا له تاسو څخه چا د مڼو ونه ليدلې ده؟

بڼ

دا د مڼو بڼ دی.

د مڼو د ونو پاڼې ښکلې دي.

په بڼ کې هر ډول ونې وې.

مونږ د ونو ښاخونه نه ماتوو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

فعالیتونه

منڼه

پاڼه

بڼ

ــ زدکوونکي دې په وارسره د (ڼ) غږ په سمه توګه ادا او نور دې ورپسې تکرار کړي.

ــ زده کوونکي دې په وارسره د متن جملې ولولي او نور زده کوونکي دې د متن یوه یوه کلمه پرتختې ولیکي.

ــ زده کوونکي دې په وارسره د (ن او ڼ) تورو توپیر په غږ او بڼه کې وښیي.

مشق او تمرین

ــ زده کوونکي دې په وار سره د ټولګي مخې ته راشي او د (منڼه، پاڼه، بڼ، ښاخونه، ښکلې، نه ماتوو) کلمې دې د ښوونکي په مرسته پر تختې ولیکي او هر زده کوونکی دې هغه په تورو ووېشي.

ــ زده کوونکي دې له لاندېنیو تورو څخه کلمې جوړې بیا دې پر تختې ولیکي.

م	ڼ	ه		←	منڼه
م	ڼ	ې		←	....
پ	ا	ڼ	ه	←	....
ښ	ک	ل	ی	←	....

کورنی دنده:

زده کوونکي دې د متن جملې په خپلو کتابچو کې ولیکي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پنځه څلوېښتم لوست:

و

موخه: زده کوونکي به د (و) غږ په سمه توگه ادا کړي، نوم به يې وپېژني او بڼه به يې سمه وليکي.

پوښتنه

ـ تاسو واوره ليدلې ده، هغه مو خوښېږي؟

واوره

واوره سپين رنگ لري.

له واورې سره هوا سړېږي.

واورې او اوبه ځمکې ښېرازوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

فعالیتونه

وړي

غوا

پیشو

ـ زده کوونکي دې په وار سره د (و) غږ په سمه توګه ادا او نور دې ورپسې تکرار کړي.
ـ زده کوونکي دې په وارسره د متن جملې ولولي او نور دې د متن یوه یوه کلمه پر تختې ولیکي.

مشق او تمرین

ـ زده کوونکي دې په وارسره د (واوره، وړی، غوا، پیشو، رنګ، هوا، ګټه، څمکو) کلمې د تختې پرمخ ولیکي او بیا دې هغه په تورو وویشي.
ـ زده کوونکي دې د لاندیني چوکاټ له تورو څخه کلمې جوړې او پر تختې دې ولیکي، بیا دې ولولي.

		ي	ړ	
ه	ر	و	ا	و
ي	ر	و	ا	

کورنۍ دنده:

زده کوونکي دې د متن په جملو کې (و) لرونکې کلمې پیدا او په خپلو کتابچو کې دې ولیکي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

شپږم ځلوېښتم لوست:

هـ ـ ه ـ ـه

موخه: زده کوونکي به د (ه) غږ سم ادا کړي، نوم به يې وپېژني او بڼې به يې سمې وليکي.

پوښتنه

ـ څوك ويلای شي چې هوا په کوم فصل کې ښه وي؟

هوا

په پسرلي کې هوا پاکه او تازه وي.

پاکه او تازه هوا روغتيا ته ګټې لري.

زه په تازه هوا کې درس وايم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

فعالیتونه

هوږه

سهار

اره

ـ زده کوونکي دې د (هـ) غږ په سمه توګه ادا او نور دې ورته غوږ ونیسي.

ـ زده کوونکي دې په وار سره د متن جملې ولولي او نور دې ورپسې په مناسب غږ تکرار کړي.

مشق او تمرین

ـ زده کوونکي دې په وار سره د ټولګي مخې ته راشي او د کتاب له مخې دې (هـ) لرونکې کلمې د تختې پرمخ ولیکي او نور دې ولولي.

ـ زده کوونکي دې د (هوږه، چاپېریال، ګټه، پاکه، تازه، هوا، اره) کلمې پر تختې ولیکي او نور زده کوونکي دې هغه په تورو واړوي.

کورنۍ دنده:

زده کوونکي دې د متن جملې ولولي او بیا دې په خپلو کتابچو کې په ښکلي خط ولیکي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

اووه څلوېښتم لوست:

ى

موخه: زده کوونکي به د ساده (ى) غږ سم اداکړي، نوم به يې وپېژني او ښه به يې سمه وليکي.

پوښتنه

ـ ځوك ويلاى شي چې په کوم فصل کې د ونو پاڼې رژېږي؟

منى

منى د کال درېم فصل دى.

په منې کې هوا ورو ورو سړېږي.

په سړې هوا کې بايد تودې جامې واغوندو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

فعالیتونه

منگی

ټولګی

خټکی

ـ زده کوونکي دې په وار سره د ساده (ی) غږ په سمه توګه ادا او نور دې ورته غوږ ونیسي.

ـ زده کوونکي دې په وار سره د متن جملې ولولي او یوه یوه کلمه دې د کتاب له مخې پر تختې ولیکي.

مشق او تمرین

ـ زده کوونکي دې په وارسره د ښوونکي په مرسته د چوکاټ له تورو بشپړې کلمې جوړې او پر تختې دې ولیکي.

موسم ←	م	س	و	
.... ←	[book]	ی	ن	م
.... ←	ی	ګ	ن	
.... ←	[book]	ړ	و	

ـ زده کوونکي دې په وار سره د (منګی، ټولګی، خټکی، منی، جامې، سرې، تودې، اغوندو) کلمې پر تختې ولیکي او هغه دې په تورو واړوي.

کورنی دنده:

زده کوونکي دې جملې ولولي او بیا دې په خپلو کتابچو کې ولیکي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

اته ځلوېښتم لوست:

ې

موخه: زده کوونکي به د اوږدي (ې) غږ سم اداکړي، نوم به يې وپېژني او بڼه به يې سمه وليکي.

پوښتنه

ــ ځوک ويلای شي چې په وچو او تازه مېووکې موکومې مېوې خوښېږي؟

مېوې

زموږ هېواد ډېرې مېوې لري.

موږ بايد پاکې مېوې وخورو.

د پاکو مېوو خوړل روغتيا ته ګټې لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

فعالیتونه

یوې

هېواد

پنې

ـ زده کوونکي دې په وارسره د اوږدې (ې) غږ په سمه توګه ادا او نور زده کوونکي دې ورته غوږ ونیسي.

ـ زده کوونکي دې په وارسره د متن جملې ولولي او یوه یوه کلمه دې د کتاب له مخې پرتختې ولیکي.

ـ زده کوونکي دې په وارسره د (ساده ی او اوږدې ې) ترمنځ توپیرونه وښیي.

مشق او تمرین

ـ زده کوونکي دې د ښوونکي په مرسته دا کلمې (مېوې، هېواد، منې، روغتیا، ګټه، پاکې، خوږل) پر تختې ولیکي او نور زده کوونکي دې په وار سره ووایي چې هره کلمه له څو تورو جوړه شوې ده؟

ـ زده کوونکي دې له ښي خوا څخه د لاندېنیو تورو په نښلولو سره بشپړې کلمې جوړې بیا دې پرتختې ولیکي.

ڼ	م	
و	ي	م
و	ی	
ر	ي	ډ

ې

کورنۍ دنده:

زده کوونکي دې د متن جملې ولولي او بیا دې په خپلو کتابچو کې څو وارې ولیکي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

نهه څلوېښتم لوست:

ي

موخه: زده کوونکي به د ځرګنده (ي) غږ په سمه توګه ادا کړي، نوم به يې وپېژني او بڼه يې سمه وليکي.

پوښتنه

ـ ځوک ويلای شي چې په پورتني انځور کې څه شیويني؟

منګي

کلال منګي جوړوي.

مور منګي پاک او سر يې پټ ساتو.

د منګي اوبه پاکې او يخې وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

فعالیتونه

یوم

سیند

بیاتي

ـ زده کوونکي دې په وارسره د متن جملې ولولي او نور دې ورپسې تکرار کړي.

ـ زده کوونکي دې په وار سره د متن جملې د کتاب له مخې ولولي او نور زده کوونکي دې د هرې یوې کلمې توري ووایي.

ـ زده کوونکي دې د (سړي، سیند، بیاتي، منگي، پاکې، یخې، پټ) کلمې پر تختې ولیکي او د (ي) له توري دې دایره وکاږي.

مشق او تمرین

ـ زده کوونکي له تېرو درسونو څخه، کومې کلمې زده کړې وي ،په خپلو کتابچو دې ولیکي.

ـ زده کوونکي دې د لاندېني چوکاټ له تورو څخه کلمې جوړې بیا دې پر تختې ولیکي.

و	ل	ي	ک
ب	ي	ا	ت
	م	ن	گ
		س	ړ

ي

کورنۍ دنده:

زده کوونکي دې د متن جملې ولولي او بیا دې په خپلو کتابچو کې په ښکلی خط ولیکي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پنځوسم لوست:

ې

موخه: زده کوونکي به د زورکې واله (ې) غږ سم ادا، نوم به یې وپېژني او بڼه به یې سمه ولیکي.



پوښتنه

ـ تاسې د کومو مرغانو هګۍ لیدلې دي؟

هګۍ

مرغان هګۍ اچوي.

مور د چرګانو تازه هګۍ خورو.

د چرګانو هګۍ او غوښې ښه خواړه دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

فعالیتونه

دوډۍ

هوسۍ

خپلۍ

ـ زده کوونکي دې د زورکۍ واله (ۍ) غږ په سمه توګه ادا او نور دې ورته غوږ ونيسي.

ـ زده کوونکي دې په وار سره د متن جملې ولولي او د ښوونکي په مرسته دې د (هوسۍ، هګۍ، ګلالۍ، هيلۍ، دوډۍ، خپلۍ) کلمې پر تختې وليکي او نور زده کوونکي دې په تورو واړوي.

مشق او تمرين

ـ زده کوونکي دې په وار سره د ټولګي مخې ته راشي او د څو مرغانو نومونه دې ووايي او د ښوونکي په مرسته دې وليکي.

ـ زده کوونکي دې له لاندېنيو تورو څخه بشپړې کلمې جوړې کړي.

هـ	ګ	ۍ		←	منه
خ	پ	ل	ۍ	←	....
د	و	ډ	ۍ	←	....
هـ	و	س	ۍ	←	....
هـ	ي	ل	ۍ	←	....

کورنۍ دنده:

زده کوونکي دې د متن جملې په ښکلي خط په خپلو کتابچو کې وليکي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

يو پنځوسم لوست:

ئ

موخه: زده کوونکي به د زورکی واله (ئ) غږ په سمه توګه ادا کړي، نوم به يې وپېژني او بڼه به يې سمه وليکي.

پوښتنه

ـ تاسې دا (ئ) پېژنئ او کله مو ليدلې ده؟

ولولئ

ټولګي ته په خپل وخت راشئ.

تاسي خپل درس ښه ولولئ!

کورنۍ دنده په سمه توګه وليکئ!

(c) ketabton.com: The Digital Library

فعالیتونه

کتاب ولولئ

خط ولیکئ

پاکه مېوه وخورئ

ـ ښو زده کوونکي دې د زورکې واله (ئ) نوم په سمه توګه ووايي او نور زده کوونکي دې وربسې تکرار کړي.

ـ زده کوونکي دې په وار سره د متن جملې ولولي او نور دې ورته غوږ ونيسي.

ـ زده کوونکي دې د لاندې پنځو ډولو (ی) ګانو (ی، ې، ي، ی، ئ) ترمنځ توپیرونه د شکل له مخې وښيي او د ښوونکي په مرسته دې مثالونه ورته راوړي.

مشق او تمرین

ـ زده کوونکي دې په وارسره دا کلمې (ولولئ، وخورئ، وګورئ، ولیکئ، شئ، کړئ، وپیژنئ) کلمې په تختې ولیکي او بيا دې په تورو واړوي او تمرین دې کړي.

ـ زده کوونکي دې له لاندېنې چوکاټ څخه چې لومړی او اخر توری يې شریک دی، کلمې جوړې کړي.



کورنۍ دنده:

زده کوونکي دې د تمرین دویم فعالیت په ښکلي خط په خپلو کتابچو کې ولیکي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوه پنځوسم لوست:

زموږ هيواد

موخه: زده کوونکي به متن سم ولوستلای او وليکلای شي او خپل هېواد به وپېژني.

پوښتني

ـ ځوک ويلای شي چې زموږ د هېواد نوم څه دی؟

ـ ځوک ويلای شي چې زموږ د هېواد پايتخت څه نومېږي؟

افغانستان زموږ هېواد دی.

د افغانستان پايتخت کابل دی.

موږ درس وايو چې خپل هېواد ودان کړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

فعالیتونه

ـ زده کوونکي دې متن په وار سره ولولي او نور زده کوونکي دې ورته غوږ ونیسي.

ـ زده کوونکي دې په وارسره د تختې مخې ته راشي د هېواد او پایتخت نوم دې واخلي او نور زده کوونکي دې پر تختې ولیکي.

مشق او تمرین

ـ زده کوونکي دې په وارسره په لاندېني شکل کې د (الف) د توري په نښلولو سره کلمې جوړې کړي:



کورنۍ دنده:

زده کوونکي دې متن په خپلو کتابچو کې ولیکي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

درې پنځوسم لوست:

بیرغ

موخه: زموږ زده کوونکي به متن سم ولوستلای، ولیکلای او د خپل هېواد د بیرغ په ارزښت به پوه شي.

پوښتني

ـ تاسو د خپل هېواد بیرغ لیدلی دی؟

ـ څوک ویلای شي چې زموږ بیرغ کوم رنګونه لري؟

زموږ ملي بیرغ د خپلواکۍ نښه ده.

زموږ بیرغ تور، سور او شین رنګ لري.

موږ د خپل ملي بیرغ درناوی کوو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

فعالیتونه

ـ زده کوونکي دې په وار سره متن د کتاب له مخې ولولي او نور دې ورته غوږ ونیسي.

ـ زده کوونکي دې په وار سره د بیرغ د رنګونو نومونه واخلي او خبرې دې پرې وکړي.

مشق او تمرین

ـ زده کوونکي دې په وار سره د تختې مخې ته راشي او د کتاب له مخې دې یوه یوه جمله پر تختې ولیکي.

ـ څو زده کوونکي دې د ښوونکي په مرسته په لاندېني شکل کې (زموږ) کلمه له نورو کلمو سره یو ځای کړي.



کورنۍ دنده:

زده کوونکي دې د خپل هېواد بیرغ رسم او د رنګونو نومونه دې ولیکي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

څلور پنځوسم لوست:

د انسان درناوی

موخه: زده کوونکي به متن سم ولوستلای، ولیکلای شي او د انسان د درناوي په مفهوم به وپوهېږي.

پوښتني

ـ تاسو ته څوک د قدر او درناوي وړ دي؟

ټول انسانان د درناوي وړ دي.

مور د مور، پلار، ښوونکي او ټولو انسانانو درناوی کوو.

د انسانانو په درناوي الله جل جلاله رضا کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

فعالیتونه

ـ زده کوونکي دې په وار سره متن (د انسانانو درناوی) ولولي او نور دې ورته غوږ ونیسي.

ـ زده کوونکي دې په وار سره د متن یوه یوه جمله د ټولګي په مخ کې ولولي او یوه یوه کلمه دې پرتختې ولیکي او په څپو دې وویشي.

ـ زده کوونکي دې د (انسانان، ښوونکی، درناوی، رضا، ټول، وړ) کلمې د کتاب له مخې پر تختې ولیکي او په څپو دې وویشي.

مشق او تمرین

١- زده کوونکي دې متن ولولي او بیا دې په خپلو کتابچو کې ولیکي.

٢- زده کوونکي دې له لاندېنیو تورو څخه کلمې جوړې او پر تختې دې ولیکي.

ټ ـ و ـ ل	ټول	ك ـ و ـ ر	....
م ـ و ـ ر	....	پ ـ ل ـ ا ـ ر	....
م ـ و ـ ږ	....	د ـ ر ـ ن ـ ا ـ و ـ ى	....
و ـ ړ	....	ا ـ ن ـ س ـ ا ـ ن	....

کورنۍ دنده:

زده کوونکي دې متن ولولي او بیا دې په خپلو کتابچو کې ولیکي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د پوهنې ترانه

پوهنه ده رڼا وطن ته مو ښکلا
کتاب او قلم زموږ رهنما

پوهنه ده رڼا، وطن ته مو ښکلا
کتاب او قلم زموږ رهنما

وطن زما یې ځان له تانه شم قربان
ته وینه د افغان ته لوړ په ټول جهان

پوهنه ده رڼا، وطن ته مو ښکلا
کتاب او قلم زموږ رهنما

اباد اوسې اباد وطنه ته شې ښاد
مونږ سربښندو په تا او ساتو دې ازاد

پوهنه ده رڼا، وطن ته مو ښکلا
کتاب او قلم زموږ رهنما

ته کور یې هم مې ګور ته پلار یې هم مې مور
ته زړه یې د اسیا زما د سترګو تور

پوهنه ده رڼا، وطن ته مو ښکلا
کتاب او قلم زموږ رهنما

ته ننګ یې د اریا او تاج یې د یما
ځاریږمه له تا افغانستان زما

پوهنه ده رڼا، وطن ته مو ښکلا
کتاب او قلم زموږ رهنما

محمد مُعین مرستیال

Get more e-books from www.ketabton.com
Ketabton.com: The Digital Library